مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۶/۰۶/۰۹

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اتهلسمه برخه)



(پر جنرال مشرف د ۲۰۰۳ز. کال د دسمبر د ۱۴مې بمي برید، د یو پله پر سر)

## پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۱۴)

### پر جنرال مشرف د بریدونو عوامل او عاملین یې

جنرال مشرف د جنرال ضیاء په څېر، د خپل ځان لهپاره ښه ډېر دښمنان جوړ کړي وو، په ځانګړي توګه وروسته له هغې چې نوموړی امریکایانو ته تسلیم او د ترهګرۍ د ځپلو په نوم له امریکایانو سره په ائتلاف کې یو ځای شو، لکه څرنګه چې په تېرو پاڼو کې یادونه وشوه، جنرال مشرف ډېورند کرښې ته څېرمه په وزیرستان او د پښتنو په نورو سیمو کې د القاعدې د تښتېدلو کسانو د له منځه وړلو په پلمه پوځي عملیات پیل کړل چې **«په دغو عملیاتو کې د امریکا، هوایي، استخباراتي او ځانګړو ځوکونو لویه ونډه لرله.»**[1]

---

[1]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی. ۴۱۷مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال مشرف لیکي چې د ۲۰۰۲ز. کال د جون په ۲۵مه شپه یې لومړني عملیات په جنوبي وزیرستان کې پیل کړل... له دې وروسته جنرال مشرف د ډېرو عملیاتو یادونه کوي چې په دې لړ کې د ۲۰۰۴ز. کال د سپتمبر د ۹مې نېټې عملیاتو په اړه وایي چې **«د دغو عملیاتو په بهیر کې ۳۵۰ تنه [د ده په اصطلاح] ترهګر ووژل شول او ۸۰۰ تنه نور ونیول شول او زموږ لوري ته ۳۰۰ عسکرو، د ترهګرۍ پر وړاندې په جګړه کې ځانونه له لاسه ورکړل... .»**[2]

جنرال مشرف چې د **(بمبرو غومبسو)** ځالې ته یې لاس وروړی ؤ او په خپله یې غومبسي بنولي وې نو ځایي پښتنو قومونو، په ځانګړي توګه د وزیرستان اتلانو د جنرال مشرف او د هغه د حکومت پر وړاندې، د القاعدې د تښتېدلو یو شمېر غړو په مالي او ځاني مرسته په غچ اخیستنه لاس پورې کړ. مشرف په پاکستان کې د القاعدې سازمان د ټولو عرب، ازبېک، چیچن او افغان جګړه‌ارانو شمېر ۳۰۰ تنه ښودلی دی.[3]

لکه څرنګه چې مشرف د پاکستان تر ولکې لاندې پښتني سیمو کې د القاعدې ۳۰۰ تنه یاد کړي، په حقیقت کې دا ځایي پښتانه وو چې د پاکستاني پوځ پر وړاندې ډېر په میړانه وجګړېدل او دا جګړه همدا اوس هم د (تحریک طالبان پاکستان-ټي‌ټي‌پي) په نوم سرتېرو جاري ساتلې ده.

د دغو جګړنو پښتنو سرتېرو ستاینه په خپله جنرال مشرف هم کوي، مشرف چې دوی ترهګر بولي وایي چې **«د خرپ او ترپ په جګړه کې ډېر ښه روزل شوي دي، په یرغل او شاتګ کې ډېر پیاوړي دي، د دوی خوځښتونه ډېر ګړندي او چټک دي، هغوی لوړ جګړه‌ییز ځواک [مورال] لري،** دوی په پیچلو وسایلو او پر لوړه ارتباطي ټکنالوژۍ سمبال دي چې کولی شي، په قوماندې او اداره کې اغېزمنه ګټه ترې پورته کړي.[4]

وروسته له هغې چې مشرف امریکایانو ته ځای ورکړ او په پاکستان کې یې له امریکایانو سره یو ځای د القاعدې سازمان او طالبانو د تښتېدلو کسانو د وژلو او نیولو عملیات پیل کړل نو ډېرو پاکستانیو ډلو او ګوندونو د مشرف او امریکا غندنه وکړه او ځینې وسله‌والې ډلې چې پاکستانیو استخباراتو د کشمیر جګړې لپاره روزلې وې چې په هغو کې: **حرکت المجاهدین، جیش محمد، لشکر جنګوي، حرکت الجهاد الاسلامي، حرکت المجاهدین العالمي او نورې** چې په کشمیر کې فعالې وې، د مشرف پر خلاف راوپاریدلې، په وزیرستان کې یې له ځایي مجاهدینو او د القاعدې کسانو سره لاس یو کړ او پر جنرال مشرف یې وژونکي خونړي بریدونه وکړل.

پر جنرال مشرف باندې په ۲۰۰۰ز. کال کې، **(کامران عاطف)** چې د **حرکت المجاهدین العالمي** غړی ؤ، د مشرف د وژلو هڅه وکړه، **عاطف په ۲۰۰۶ز. کال کې د ترهګرۍ ضد محکمې له خوا په اعدام محکوم شو.**[5]

د جنرال مشرف پر وړاندې د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر د میاشتې د موټربمونو طرحه د القاعدې سازمان له‌خوا جوړه شوې وه خو عملي کوونکي یې د کشمیر جهادي ډله جیش محمد وه. پر جنرال مشرف د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر، پیچلي او هم‌مهاله د موټربمونو بریدونو له څرنګوالي څرګندیږي چې د مشرف نږدې کسانو د هغه د سپرلۍ زغره‌وال ګاډي په نښه کولو کې مرسته کړې ده، داسې چې مشرف د ځان‌ساتنې په موخه کله هم د خپل کاروان په یوه ځانګړي موټر کې سفر نه کاوه، د ډسمبر له برید وړاندې مشرف د کاروان په دریم ګاډي کې له خپل پوځي منشي سره سپور شو.[6] د کاروان دا دریم ګاډی د جنرال مشرف د نږدې کسانو له‌خوا ځان‌مرګو ته په ګوته شوی ؤ چې په دې ورځ څو ځله په نښه شو.
مشرف هم وایي چې د پاکستان د هوایي ځواک او پوځ (کوماندو) ټیټ‌پوړي افسران او عسکر له بریدګرو سره یو ځای شوي وو او د ده د تګ راتګ او امنیتي ترتیباتو مالومات یې ورکول.

---

[2]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی. ۴۲۴مخ
[3]: هماغه کتاب. ۴۲۴مخ
[4]: هماغه کتاب. ۴۲۴مخ
[5]: https://www.dawn.com/news/190021
[6]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی. ۸مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مشرف ليکي چي پر ما باندې د دويم بريد مبتکر **(ابو فرج الليبي)** چي اصلي نوم يې **(مصطفى محمد)** ؤ، **(صلاح الدين)** يوازې يو پيغام رسوونکى ؤ، هغه کس ؤ چي د الليبي پيغام يې د عملياتو پلان جوړوونکي ته رسولی ؤ خو د عملياتو اصلي پلان جوړوونکی څوک ؤ؟
مشرف زياتوي چي موږ ته ويل شوي وو، د هوايي ځواک هغه غړي او د ځانګړو خدماتو ډلي (SSG) کوماندويان چي موږ نيولي وو، نسبتاً کوچني لوبغاړي وو، موږ لا تر اوسه د اصلي کړۍ هغه مهم ارتباطي کس نه وو موندلی، هماغه وو چي پلټونکي د (**امجد فاروقي**) نوم سره مخ شول.
فاروقي او الليبي په افغانستان کي يو بل پيژندل. وروسته څرګنده شوه چي **فاروقي په پاکستان کي د القاعدې له اصلي عملياتي پلان جوړوونکو څخه ؤ، هغه نه يوازې پر ما باندې د دويم بريد پلان جوړوونکی او لارښود ؤ، بلکي د بريد د ترسره کېدو پر مهال پخپله هم د پيښي سيمي ته نږدې موجود ؤ.**[7]
**امجد فاروقي د ۲۰۰۴ز. کال د سپتمبر په ۲۵مه نېټه د سېند ايالت د نوابشاه په سيمه کي د پوليسو سره د پلټني پر مهال ووژل شو.**[8]
د صلاح الدين د پلټنو پر مهال هغه ادا هم وويل چي د پاکستان د ځانګړو خدماتو ډلي (SSG) دوه ټيټ رتبه افسرانو (چي زه هم پخوا د همدې قطعې غړی وم) ورسره مرسته کړې وه، دغه دوه کسان، يو يې **(ارشاد)** او بل يې **(دوګر)** نوميدل.[9]

د پوځ د لوی درستيز د مرستيال د مالوماتو پر بنسټ موږ ټول هغه پوځي کسان وپلټل او ونيول چي د ارشاد نومونه يې درلودل. چي په پای کي مو هغه ارشاد نومی پيدا کړ چي د اسلام آباد په شاوخوا کي د (کهولا) کلي اوسېدونکی ؤ، دا رښتيا هم ډېره ټکان ورکوونکي خبره وه چي ترهګر موږ ته څومره نږدې شوي دي.

په لومړي سر کي د **(دوګر)** د نوم له اورېدو سخت حيران شوم، ځکه هغه زما له نږدې ساتونکو څخه ؤ چي د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر د ۲۵مي نېټي د بريد پر مهال زما د موټر په مخکيني څوکۍ کي ناست ؤ.
له نيکه‌مرغه چي هغه بې‌ګناه وپيژندل شو. **خو وروسته څرګنده شوه چي يو بل کس چي هغه هم دوګر نوميده او پخوا زما د امنيتي ډلي غړی ؤ (چي اوس نشته) په دې توطيه کي ښکيل ؤ، موږ هغه مجرم دوګر هم ونيو.** ارشاد هم ډېر مهم مالومات رسوا کړل. له هغو مالوماتو څخه مو وموندل چي هغه له ډېري مودې راهيسې د همدې ترهګرې ډلي غړی ؤ.[10]

جنرال مشرف د القاعدې سازمان، درېيم کس ابو فرج الليبي، د دوو بريدونو لارښود بولي...[11] چي د ۲۰۰۵ز. کال د مې په لومړۍ نېټه د پاکستاني استخباراتي ځواکونو له‌خوا ونيول شو. مشرف ليکي چي د امجد فاروقي په مرګ او ابو فرج ليبي په نيولو سره د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر مياشتي د ۲۵مي نېټي داستان پای ته ورسيد.[12]

مشرف ليکي: لا يو بل ګوزار پاتي ؤ، **(مشتاق)**: هغه کس چي د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر د ۱۴مي نېټي پر ما، د لومړي بريد په پلان او عملي کولو کي يې مهمه ونډه لرله، **هغه په راولپنډۍ کي د پاکستان د هوايي ځواک له يوی اډې څخه وتښتېد او له بند څخه فرار شو**[13] **خو مشتاق د ۲۰۰۵ز. کال په جنورۍ کي د ای‌اېس‌ای له‌خوا ونيول شو.**

د مشرف د وژلو په پېښو کي کيدای شي نورو ډېرو کسانو ونډه اخيستي وي چي په دې ډله کي د پاکستان په پوځ او هوايي ځواکونو کي، ټيټ‌پوړو افسرانو او نورو پرسونل هم مرسته کړې وه چي په دغو کسانو کي يو هم **(نياز محمد)** ؤ چي د دغه بريد له امله په اعدام محکوم شو.
نياز محمد په ۲۰۰۳ز. کال کي هڅه کړې وه چي پرويز مشرف د راولپنډۍ په ښار کي ترور کړي، نوموړي په نورو ترهګريزو کړنو کي هم برخه لرله. نياز محمد د پېښور د صوابۍ سيمي اوسېدونکی ؤ، هغه د پوځي محکمي له خوا د

---

[7]: هماغه کتاب. ۴۰۰ مخ
[8]: هماغه کتاب. ۴۰۲- ۴۰۴مخونه
[9]: هماغه کتاب. ۳۹۷ مخ
[10]: هماغه کتاب ۳۹۸ مخ
[11]: هماغه کتاب. ۴۰۵مخ
[12]: پرويز مشرف: در خط آتش، مترجم: سيد هارون يونسی. ۴۰۹مخ
[13]: هماغه کتاب. ۴۰۹مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اعدام د حکم د عملي کېدو لپاره ۲ ورځې مخکي د هریپور له زندانه د پېښور زندان ته ولېږدول شو. **نیاز محمد تېره شپه له خپلې کورنۍ سره وروستۍ لیدنه وکړه او نن سهار اعدام شو.** (۱۰ جدی ۱۳۹۳ل. ل)[14]
د جنرال مشرف د خاطرو په کتاب د هغو ټولو کسانو نومونه او کړنې نه دي لیکل شوي چې پر مشرف باندي یې په بریدونو کې ونډه لرله خو په ځینو نورو منابعو کې یې یادونه شوي ده. په هر حال له دې وروسته په پاکستان د جنرال مشرف د احمقانه کړنو په غبرګون کې نوري ډېرې مهې پېښې رامنځ ته شوې چې د پاکستان امینتي حالات یې لاپسي ویجاړ کړل چې په راتلونکو لیکنو کې به مالومات وړاندې شي.



( له برید څخه وروسته اخیستل شوی انځور، د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر میاشت)
نېټه:۱۴۰۵/۳/۱۹ل. ل
**نور بیا**

---
[14]:https://af.shafaqna.com/FA/21249


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ